عبدالباری جهانی

۲۰۲۲/۱۲/۲۸

# ترخې خاطرې

نن سهار له کندهار څخه زما يوه خواخوږي دوست په هغه ښار کي د يوې لويی غونډي، چي تر زرو کسانو زياتو برخه پکښی درلوده، د يوې برخي يوه ويډيو را ولېږله. دې غونډي ته يوه جاهل په داسي پوچو الفاظو او کرغېړنو کلماتو وينا کوله، وينا نه وه بلکه غپا يې کوله، چي ما په خپل ټول ژوند کي د دنيا په هيڅ ځای کي د ستيج له سر څخه دونه پوچ کلمات او ښکنځل نه اورېدلي او نه مي تصور کولای سوای. دا وينا له دومره پوچو الفاظو او ښکنځلو څخه ډکه وه چي حتی د يوې کلمي تکرار يې د قلم تقدس ته سپکاوی دی. د ابوجهل د دې سکني زوی د وينا اصلي موضوع د ښځو او نجونو د تعليم پر ضد ښکنځل او پوچ ويل وه. دا نظم مي د همدغی ترخې خاطرې په ياد ليکلی دی:

که دا ښار هديره نه وای که ژوندي پر اوسېدلای
ابوجهل به يې ولي د منبر سرته ختلای
که دا مينه د ميرويس وای که دا قام د احمدشاه وای
د جاهل ژبه به ولي لکه توره چلېدلای
چا دروغ ويل چي دلته بلېدې ډيوې د علم
جنازې ته به يې ولي په سروسترګو ژړېدلای
نن به ولي په تیارو کي ښخېدې د شمعي مړی
که ريښتيا مو تاريخونه د قرنونو درلودلای
خدايه زما له ښکلي ښاره زما له مسته کندهاره
دا پيغام چا رالېږلی؟ کشکي نه مي اورېدلای
کشکي نه وای له دې قامه نه شاعر وای نه لوستونکی
نه مي نظم سوای ليکلای نه مي توري سوای لوستلای
يو به زه يوه امسا وای له خپل زړه سره تنها وای
نه په غم د چا شريک وای نه له رنځه کړېدلای
زما وطن پر مرګ پيرزوی دی نه قدرت د ابوجهل
بس چي ژبه يې ګونګی وای چا يې ږغ نه اورېدلای
يا دي نه وای شاعر کړی يا دي نه وای بينا کړی
له جهانه پټي سترګي تر خپل ګوره پوري تللای
ما به څه غوښتای له نظمه ما به څه غوښتای له درده
زه به ولي هر پرهار ته په سينه کي خوږېدلای.

د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د مياشتی اووه ويشتمه، ويرجينيا.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ